KPMG FOUNDATION

REFUGEE COUNCIL

Pushto

# د ښوونځي له دروازو نه هاخوا: د رپپورټ لنډيز

## د ريپورټ خپريدل: مى ۲۰۰۸

"د ښوونځي له دروازو نه هاخوا" د يوې څيړنې لاس ته راوړنې وړاندې کوي چې *د ثانوي زده کړو د ښوونځيو د پراخې پروژې (Inclusive Secondary Schools Project)* د يوې برخې په توګه په **۲۰۰۵** کال کې پيل شوه، د کډوالو شورا لخوا بشپړه او مالي مصارف يې د KPMG Foundation لخوا ورکړل شول. د دې پروژې عمومي موخه دا وه چې د کار کولو وړ داسې نوې لارې وڅيړي چې ښوونځي له کډوالو او پناه غوښتونکو ځوانانو، د هغوي ميندو او پلرونو او ساتونکو او د کډوالو ټولنيز سازمانونو (RCOs) سره پيوند کړي. دا ريپورټ د څيړنې د مرحلې د پايلو په اړه، چې په انګلستان کې د ثانوي زده کړو په اړه د کډوالو او پناه غوښتونکو اړتياوي او تجربې راسپړي، تر بحث لاندې نيسي. همدارنګه *د ثانوي زده کړو د ښوونځيو پراخې پروژې (Inclusive Secondary Schools Project)* له ښوونځيو او د کډوالو ټولنو/مرستندويه ادارو سره تجربوي مشارکت جوړ کړى دى، تر څو هغو عواملو ته ځواب ووايي چې د والدينو/ساتونکو په ګډه کارکولو او ښې پرمختيا باندې اغيزه کوي. د څيړنې او پرمختګ د دواړو مرحلو پايلې د هغو سرچينو بنسټ جوړوي چې ښوونځيو او د کډوالو ټولنو/مرستندويه ادارو ته د کډوالو او پناه غوښتونکو ځوانانو د زده کړې په بهير کې د کډوالې ټولنې د برخه اخيستلو په زياتوالي لګيږي.

په دې ريپورټ کې تشريح شوې څيړنه، چې په ۷۰ تفصيلي مرکو، او د کډوالو شوراوو ادارو، د ثانوي زده کړو د ښوونځيو او مسؤولينو سره د سروې به پوښتنليکونو شامله ده، د لاندې مسلو په اړه ده:

- د دغو ډلو د تجربو او اړتياوو پلټنه
- د شموليت په مقابل کې د اساسي خنډونو پيژندل، او
- د هغو عملي نمونو پيژندنه چې هدف يې د دې خنډونو له مينځه وړل دى.

د پاليسۍ او قوانينو محتوى، او په هماغه نسبت د څيړنې طرحه، په تفصيل سره په دوهم او دريم فصل کې تر بحث لاندې نيول شوي دي. څلورم فصل د ثانوي زده کړو په دوره کې د ځوانانو او والدينو/ساتونکو د زده کړې تجربې راسپړي. پنځم فصل په زده کړه کې د برياليتوب او د لاسرسي په مقابل کې خنډونه راپيژني، په داسې حال کې چې شپږم فصل هغه شپږ مهمې عملي لارې په ګوته کوي چې د دې خنډونو په له مينځه وړلو کې د کډوالو ټولنو سره مرسته کوي. دا ريپورټ په هغو سپارښتنو پاى ته رسيږي چې د کډوالو ټولنو د اړتياوو د پوره کولو لپاره له اړوندو اړخونو سره د مرستې په موخه جوړې شوي دي.

OISC No: N200100132

Community Legal Service

British Refugee Council, (commonly called the Refugee Council) is a company limited by guarantee
registered in England and Wales, [No 2727514] and a registered charity, [No 1014576].
Registered office: 240-250 Ferndale Road, London SW9 8BB, United Kingdom, VAT reg no: 936 519 988

## تجربه او مشارکت

په دې څیړنه کې ځوانو کسانو د والدینو/ساتونکو د برخه اخیستنې لوړه کچه په ګوته کړه، چې د پام وړ توپیر لري، د بیلګې په توګه له یوې لنډې کتنې نیولي تر ډیر شمیر مخامخ لیدنو پورې. که څه هم په انګلیسي ژبه په روانۍ سره خبرې کول کیدای شي یو خنډ وي، خو له دې خنډ سره سره والدینو د مشارکت لپاره خپلو هڅو ته ادامه ورکړې ، او ځوان کسان په عمومي توګه له خپلو والدینو/ساتونکو څخه د ترلاسه کیدونکي ملاتړ په اړه مثبت احساس لري.

والدین/ساتونکي په عمومي توګه له ښوونځیو څخه رضایت لري او د ګډون کولو سطحه لوړه ده، په ځانګړي توګه کله چې دا ګډون له ښوونځي او د کارکوونکو سره یې د مثبتو اړیکو له لارې منځ ته راغلی وي. ځینو والدینو /ساتونکو د داسې لارو چارو وړاندیز کړی دی چې د هغې له لارې په ګډون کولو کې زیاتوالی راځي، لکه لا ښې اړیکې او د ښوونځیو د نظریاتو ترلاسه کول.

ښوونځیو د ځوانانو په عمومي بریالیتوب او په هماغه نسبت سره د والدینو/ساتونکو ته د ماشومانو په زده کړه کې برخه اخیستلو کې واک ورکول، د یوه مهم عامل په توګه پیژندلی دی. سره له دې چې ځیني ښوونځي له والدین/ساتونکو سره په ګډون کولو کې له ستونزو سره مخ شوي دي، او د چاپیریال او دوستانه اړیکو په اهمیت یې لا ټینګار کوي.

د کډوالو ټولنیزو سازمانونو په دې څیړنه کې له زده کړې سره اړوند یو لړ مرستې وړاندې کړې دي، چې د په ګوته شویو اړتیاوو ته د ځواب ویلو له پاره طرح شوي وی. په دې خدماتو کې د زده کړې په برخه کې د نه بریالیتوب په اړه اندیښنې، د ښوونځیو د کورنیو دندو څخه د ملاتړ اړتیا ، او سلوک یا کړو وړو په اړه ستونزې شاملې دي. د کډوالو ټولنیزو سازمانونو د بریالیتوب د سویې لوړوالي په اهمیت، د ځوانانو د فرهنګي او ژبنۍ میراثونو د لوړوالي لپاره په ابتکاراتو ، او د انګلیسي ژبې د زده کړې له لارې د والدینو په یوځای والي باندې ټینګار کړی دي. دا سازمانونه په ځانګړي توګه د والدینو/ساتونکو له اړتیاوو نه په ملاتړ ټینګار کوي، ځکه په ځینو حالاتو کې د هغوی یو ځای کیدنه د ماشومانو په پرتله ستونزمن کار بریښي.

## د شمولیت په لار کې خنډونه

دې څیړنې د کډوالو او پناه غوښتونکو ځوانانو او د هغوی د والدینو/ساتونکو په ثانوي زده کړو کې د اغیزمن شمولیت په وړاندې اصلي خنډونه په ګوته کړي دي.

- ځواب ورکوونکو ښوونځیو ته د لاسرسي په اړه له یو لړ پراخو ستونزو سرخ مخ دي، چې په هغې کې د اوږدې مودې ځنډ (تر ۷ میاشتو پورې) د ښوونځي ته د لاسرسي انتظار سره مخ دي. د ډیر شمیر ځواب ورکوونکو له پاره هغه ملاتړ چې د بیلابیلو سرچینو لخوا وړاندې کیږي، ونشوای کړای چې د دې ځنډ کولو مخه ونیسي.

- ځورونه او نژادي تبعیض د کورنیو او د کډوالو د ټولنیز سازمانو له اصلي اندیښنو څخه شمیرل کیږي. ځوانان له دې ویرې چې نوم به یې بد شي، د یوه کډوال یا پناه غوښتونکي په توګه د خپل ځان له پیژندلو یا هم د خپل تیر ژوند په اړه له خبرو کولو سره هیڅ ډول علاقه نلري د کډوالو ټولنیز سازمانونه هم دا یوه همیشنۍ ستونزه ګڼي.

- کورنۍ د شمولیت له پاره له مالي خنډونو ، لکه له درسي نصاب څخه اضافه فعالیتونو له پاره د مالي ملاتړ نشتوالی، او د ښوونځی لپاره درسي کتابونو ، یونیفورم او اضافي موادو په برابرولو کې له ستونزو سره مخ وه. دا کار په ښوونځیو کې د ګډون له پاره د ځوانانو په وړتیاوو باندې منفي اغیزه درلوده.

- د کډوالو ټولنيز سازمانونو د منابعو د کموالي ريپورټ ورکوي چې د زده کړې د خدماتو او د خدماتو د وړاندې کولو له پاره د ارزانه تعميراتو د پيدا کولو له پاره د بودجې په برابرولو کې د ستونزو سبب کيږي. د يوځای کيدنې لپاره مرستې ډير وخت لنډ مهاله وي او په همدې دليل په اوسنيو فعاليتونو باندې ډيره لږ اغيزه لري.

- ښوونځي او د کډوالو ټولنيز سازمانونه دواړه ښوونکو او کارکوونکو ته د اغيزمنې زده کړې د وړاندې کولو اړوند منابعو له خنډونو سره مخ وه، او دا وضعيت د هغوی دا وړتيا چې ښوونکو ته مناسبې مشورې ورکړي، محدوده وي.

- د انګليسي ژبې د مهارت نشتوالی هم د زده کړې په بهير کې د والدينو/ساتونکو د اغيزمن ګډون په وړاندې يو مهم خنډ وو. ښوونځي د زده کوونکو د پرمختګ د وضعيت په اړه والدينو ته د ريپورټ په ورکولو کې له ستونزو سره مخ دي، په ځانګړي توګه کله چې دا کار د ځوانانو په غاړه وي.

- د بريتانيې د پناه غوښتنې سيستم هم په خپل ځان کې ځينې خنډونه لري، چې په هغې کې د هغو پناه غوښتونکو د وضعيت نه معلوميدل چې ښوونځي ته ځي، او له هغوی سره تل د ايستلو ويره وي. په موقت ډول هستوګنځي باندې تکيه کول هم په دې معنی دي چې ماشومان په مکرر ډول سره اړ دي چې په نويو ښوونځيو کې ځای پر ځای شي، او دا کار په ټولنه کې د هغوی د ځای پرځای کيدلو، ملګري موندلو، او له ټولنو څخه د ملاتړ د ترلاسه کولو په وړتيا باندې سخته منفي اغيزه ولري.

- د رواني بحرانونو او جګړو تجربه هم کولای شي چې د ماشومانو په کړو وړو، په ځانګړې توګه له ښوونکو او ټولګيوالو سره، ژوره اغيزه ولري.

- ځوانان او والدين/ساتونکي کيدای شي د ښوونځي له سيستم سره پيژند ګلوي ونلري، او ډير وختونه ښوونځي د هغوی لپاره يو پيچلی چاپيريال وي.

- له دې حقيقت سره سره چې د کډوالو ټولنيز سازمانونه کيدای شي چې په زده کړه کې د برياليتوب لپاره د مرستې په ښو او وړ ځايونو بدل شي، خو ښوونځيو ته د هغوی نه لاسرسې او په هماغه نسبت سره د کډوالو له سازمانونو سره د هغوی د پيژندلو او اړيکو لپاره د ښوونځيو وړتيا، کيدای شي چې په خنډونو باندې د برلاسې کيدلو لپاره د ګډ کار کولو مانع شي.

## د کډوالو او پناه غوښتونکو اړتياوي پوره کول

دې پروژې د پورته ياد شويو خنډونو د له منځه وړلو له پاره يو لړ کړنې په ګوته کړي دي، چې په لاندې ډول دي:

- د ښوونځي د ورځينو خدماتو له برابرولو نه هاخوا په ښوونځي کې د اوږدې مودې شموليت ته لاسرسې، د والدينو/ساتونکو لخوا په ښوونځي او ټولنه کې د مرستندويه نقش د ترسره کولو سره د مرستې په موخه، او په هماغه نسبت سره د ځوانانو ګډون.

- د کډوالو ځينو سازمانونو په برياليتوب سره د زده کړې د خدماتو د برابرولو لپاره ځانګړي بودجه برابره کړې ده.

- ځینو ښوونځیو د ښوونځي او ټولنې د اړیکو لپاره مرستندویان مقرر کړي دي، چې د ښوونځي او ټولنې تر منځ د اړیکو په ټینګولو کې مهم رول لوبوي. ځینې ښوونځي د دي کار له پاره له غیررسمي ټولنیزو طرفدارانو څخه کار اخلي.

- ښوونځي او د کډوالو ټولنیز سازمانونه له یو شان ته لاربښوونکو خخه د زده کړې ، معارف او عمومي ملاتړ سره د مرستې په موخه کار اخلي.

- ځیني لږ شمیر ښوونځیو له متخصصه سازمانونو او خدماتو سره په رواني بحرانونو مبتلا ځوانانو څخه د رواني- ټولنیز ملاتړ لپاره ښې اړیکې درلودلې.

- ژبنۍ ملاتړ مهم ګڼل کیږي او معمولاً د زده کړې په لار کې د ځای پر ځای کولو له لیارې ورکړل شوي دي. که څه هم، داسې لارې لکه د شنبې د ورځې ټولګې چې د ښوونځیو او د کډوالو د ټولنیزو سازمانونو لخوا اداره کیږي، هم پیژندل شوي دي.

- ځینو ښوونځیو د والدینو/ساتونکو لپاره درسي مواد ژباړلي دي او یا د شفاهي ژباړې خدمات وړاندې کوي.

- ډیر شمیر ښوونخیو د ځوانانو او والدینو لپاره د پیژندنې غونډې جوړې کړي دي. دا غونډې عموماً د راجستر کیدلو د بهیر ، د زده کړې د نصاب، او له ښوونځي سره د ګډون په اړه معلومات وړاندې کوي. خینو ښوونځیو د ځوانو پناه غوښتونکو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره ځینې وړې لاربښود رسالې ژباړلې دي.

- همدارنګه د کډوالو ټولنیزو سازمانونو د انګلستان د ښوونځیو د سیستم په اړه د والدینو/ساتونکو له پاره معلومات برابر کړي دي، چې په هغې کې یو په یو سلا مشوره، او د ماشومانو د زده کړې په اړه د مرستې څرنګوالې شامل دي.

- ځینو ښوونځیو هم د دایمي ګډون لارې، لکه د کډوالو ټولنو ته د چای څښلو او مرستندویه غونډې جوړې کړي دي.

- د ثانوي زده کړو دښوونځیو او کډوالو ټولنیزو سازمانونو د ګډ کار اړوند بیلګې هم د کډوالو او پناه غوښتونکو ځوانانو او والدینو/ساتونکو د زده کړې د تجربو د لاښه والي په منظور وړاندې شوي دي.

## پایلې او سپارښتنې

دا ریپورټ د کډوالو ټولنو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره له ګډون کوونکو سره د مرستې په سپارښتنو پای مومي. په ګډون کوونکو کې د ثانوي زده کړو ښوونځي، سمیه اییزې ادارې ، د کډوالو ټولنیز سازمانونه، د کډوالو څخه د ملاتړ سازمانونه، او دولتي ادارې شمیرل کیږي.

د څیړنې بشپړ ریپورټ، د نظر پوښتنې پایلې او د منابعو ټولګه چې د ښوونځیو او کډوالو ټولنیز سازمانونو سره د پناه غوښتونکو د ماشومانو د اړتیاوو سره د مرستې په موخه، چې *د ثانوي زده کړو د ښوونځیو د پراخېپروژې* ( *Inclusive Secondary Schools Project*) د یوې برخې په توګه برابر کړی شوي دي، له ویب پاڼې www.refugeecouncil.org.uk/inclusiveschools څخه ترلاسه کیدای شي.